مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۹/۱۴

# د ځوانان ځواک

## (دریمه برخه)

دا چې د ځوانانو پر ځواک او د هغوي د وجود په ورتیاوو پوه شو، نو په کار ده چې په ټولنه کې ځوان نسل ته ځانګړې پاملرنه وکړو، هغوی ته فرصتونه، امکانات برابر او د چارو په برابرولو او پرېکړو کې ورته پوره ونډه ورکړل شي. د ځوانانو پرځواک او د وجود پر ورتیاوو د ګڼ شمېر لیکوالانو او پوهانو لیکنې او نظرونه شتون لري، چې په دې لیکنه کې به هم وربانديې یوڅه رڼا واچول شي.

له هر څه د مخه باید ځوانان وپېژنو او د هغوي اړتیاوو او غوښتنو ته پوره ځیر شو. ځوانان د هرې ټولنې د پرمختګ، نوښت او بدلون اصلي محور حسابولای شو، چې د ملت د فکري، اقتصادي او کلتوري ودې په پیاوړتیا کې نقش لوبولای شي. هر کله چې یو ملت او نظام وغواړي د پرمختګ او ثبات خوا ته ګام پورته کړي، نو اړتیا ده چې د خپلو ځوانانو د روزنې، ملاتړ او ځواکمنتیا ته یې لومړیتوب ورکړي.

په اوسنی زمانه کې د ځوانانو د بریا لپاره د زده کړې کیفیت او د نوو مهارتونو زده کول خورا اړین بلل کېږي. یوازې د سند ترلاسه کول بسنه نه کوي، بلکې عملي پوهه، مسلکي ورتیا او همدارنګه د کار ورتیا د ژوند لورى بدلولی شي.

د هېواد د هر اړخیز پرمختګ لپاره مسئولین باید د ځوانانو د زده کړې او کارموندنې په برخه کې هڅه وکړي، څو دوي وشي کولای د خپل هېواد دننه د ځان او نورو لپاره کاري او پرمختیایي چانسونه او فرصتونه برابر کړي. که د ځوان نسل انرژي او ځواک د هېواد د جوړونې په لار کې وکارول شي، نو نه یوازې اقتصادي ثبات راځي، بلکې ټولنه له فقر، بېکارۍ او نا امیدۍ څخه ژغورل کېږي.

ځوان نسل د هر ملت د پرمختګ او نوښت اصلي ځواک بلل کېږي او دا هغه قشر دی چې، د فکر، انرژۍ، استعداد او احساس له پلوه پیاوړی او غني وي.

د ځوانانو د انرژي په سمه لاره رهبري، د یو ملت له وروسته پاتې حالت څخه د پرمختګ او ثبات لور ته د تللو لامل ګرځي. خو له بده مرغه باید ووایو چې، زموږ په ټولنه کې د ځوانانو دا ځواک ډېرى وخت یا ناسم لوري ته تللی وي، یا هېڅ ترې ګټه نه وي اخیستل شوي او دا هغه حالت دی چې، کورنۍ او مسئول کسان یې باید ژر درک کړي او د بدلېدو په فکر ژر تر ژره پرې عمل وکړي، ځکه ملتونه هغه وخت پرمختګ کوي کله چې خپل ځوان نسل د ودې، کار او مسؤلیت پر لور وهڅوي. ملت هغه وخت پیاوړی کېږي، چې د هغه وګړي د خپل هېواد د ودې، پرمختګ او ثبات په موخه، په ګډه کار وکړي. د ملت پیاوړتیا یوازې په دولت یا رهبرۍ پورې تړاو نه لري، بلکې دا د هر ځوان، هر ښوونکي، هر بزګر او هر کارکوونکي ګډ مسئولیت دی. یو ملت هغه وخت ځواکمن وي، چې د ټولنې هره برخه خپله ونډه د صداقت، مینې او خدمت پر اساس تر سره کړي.

په اوسنیوشرایطو کې د پرمختللو تکنالوژیو پرمټ او د د ټولنیزو رسنیو اغېز د ځوانانو په ژوند کې ډېرې ژورې اغیزې تر سره کړي دي او کوي یې.

همدا ډول په اوسني عصر کې ټولنیزې رسنۍ د انسان د ژوند یوه نه بېلېدونکې برخه ګرځېدلې ده، په ځانګړې ډول د ځوان نسل لپاره. دا رسنۍ د اړیکو، زده‌کړې، خبرتیا او د فکر د څرګندولو یوه مهمه وسیله ده، مګر په خواشینۍ سره یو شمېر ځوانان یې دومره بې ځایه مصروف ساتلي، چې که ورته زېر شو د ځوانانو په هر جمعیت کې، هر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

محفل کې او حتا پر ځینو تفریحي پروګرامونو کې د هر چا په لاس کې تیلیفون او پر بې ځایه پروګرامونه خپل قیمتی وخت ضایع کوي.

فېسبوک، اېکس (ټوېټر)، انسټاګرام، ټېک ټاک، یوټیوب او نورې برېښنايي رسنۍ اوس د ځـوانانو د ورځني ژوند یوه مهمه برخه ده چې د هغوی د فکر، چلند او مهارتونو په جوړولو کې مهم رول لوبوي.

ځوانان کولای شي د نړۍ له بېلابېلو خلکو سره د ټولنیزو رسنیو پر مټ اړیکه ټینګه کړي، چې دا اړیکې نه یوازې د پوهې د پراخېدو لامل ګرځي، بلکې د زغم، تفاهم او ګډ فکر کلتور هم پیاوړی کوي. د بېلګې په توګه، یو ځوان کولی شي د انټرنېټ له لارې له نورو هېوادونو د زده‌کړې برنامو، علمي لیکنو او مهارتونو څخه ګټه واخلي، چې دا چاره یې د فکري ودې او مسلکي پرمختګ لامل کېږي.

باید وویل شي چې، که دا وسایل په سمه توګه وکارول شي، د پوهې، اړیکو او پرمختګ وسیله ګرځي، خو که بې ځایه وکارول شي، نو د وخت ضایع، فکري ګډوډي او رواني فشارونه رامنځته کوي.

له همدې امله، د ځوانانو له‌پاره اړینه ده چې د رسنیو کارونه د مثبت بدلون، زده کړې او سالمي تفریح په موخه ترسره کړي.

په پای کې باید وویل شي چې، اسلامي لارښووني هم پر دې ټینګار کوي چې د ځوانۍ وخت د الله تعالی یو امانت دی او د هر انسان څخه به پوښتنه کېږي چې دا عمر یې په څه تیر کړي دی، نو که یو ځوان له خپل ځواک، عقل او احساس څخه د خیر، زده‌کړې او د ټولنې د خدمت په لاره کې کار واخلي، نو نه یوازې خپل راتلونکی جوړوي، بلکې د ټول ملت د راتلونکي بنسټ هم پیاوړی کولای شي.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ